DTM
AFGHANISTAN

# د تحرکاتو بنسټیزه ارزونه

فاریاب
د پایلي لنډیز
اوم پړاو . اکتوبر - ډسمبر ۲۰۱۸



که څه هم په فاریاب ولایت کې ډېری داخلي بېځایه شوي کسان په خیمو او آزاده فضا کې ژوند کوي ډېری نورې داخلي بېځایه شوي کورنۍ هغو کوربه ټولنو کې چې د نفوسو شمېر یې زیات دی په شریکي، ختېنو کورونو کې ژوند کوي – لکه دا داخلي بېځایه شوي کورنۍ چې په اندخوی ولسوالۍ کې ژوند کوي. © IOM ۲۰۱۸

## د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم (DTM)

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم داسې یو سیستم دی چې د خلکو د بېځایه کېدنې او تحرک له بهیر څخه تعقیب او څارنه کوي. دا سیستم په سیستماتیک ډول د معلوماتو راټولولو، پراسس کولو او خپرولو لپاره جوړ شوی ترڅو وکولای شي د تحرکاتو او په سیمه او یا لاره کې د بېځایه شویو خلکو هغه اړتیاوو په هکله چې د بدلون په حال کې دي ښه پوهاوی منځ ته راولي. د DTM په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره www.displacement.iom.int/afghanistan څخه کتنه وکړئ.

په افغانستان کې، DTM د تحرک د ارزونې بنسټیزه وسیله کاروي ترڅو د تحرکاتو څخه څارنه، د جبري بېځایه شویو کسانو د نفوس کچه او موقعیت تشخیص، د بېځایه کیدو علت، اصلی سیمې، د بېځایه کېدو مهال، لومړني ډیموګرافیکي معلومات، زیانمنتیاوې او د اړتیاوو د لومړیتوبونو څخه څارنه وکړي. معلومات د کلیو په کچه د ډله ایزو بحثونو، مخامخ کتنو او کلیدي معلوماتو ورکوونکو سره د مرکې له لارې راټولېږي.

DTM پروګرام، د کډوالۍ نړیوال سازمان او ملګري سازمانونو ته دا پیاوړتیا ورکوي چې سرچینې په اعظمي توګه لوړې کړي او لومړیتوبونه وټاکي ترڅو د شواهدو پر بنسټ هدفمند، دوامداره او د حرکت پر وړاندې د پایدارو او حساسو بشردوستانه مرستو پروګرامونه وړاندې کړي او د ټولنې د بیا یوځای کېدنې، ثبات او پراختیا څخه ډاډ ترلاسه شي.

## ۵ د موخې وړ جمعیتونه

DTM د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې له لارې د لاندې ۵ اساسي جمعیتونو کټګوریو موقعیت، نفوس او څو سکتوریزې اړتیاوې څاري:

۱. بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي

هغه افغانان چې لږ تر لږه د ۶ میاشتو لپاره د هیواد څخه بهر اوسېدلي وي او اوس راستانه شوي وي

۲. بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

هغه افغانان چې بهرنیو هېوادونو ته تللي او یا کډه یې کړې وي

داخلي بېځایه شوي په لاندې درېو کټګوریو وېشل شوي دي:

۳. داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښي

د ارزول شویو کلیو څخه هغه افغانان چې د داخلي بېځایه شویو په توګه یې خپلې سیمې پرېښې ترڅو د افغانستان دننه په یوې بلې سیمې کې ژوند وکړي

۴. رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان

د نورو سیمو څخه داخلي بېځایه شوي کسان چې اوسمهال په یوه ارزول شوي کلي کې ژوند کوي

۵. راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان

هغه افغانان چې د ارزول شویو کلیو څخه پخوا د داخلي بېځایه شویو په توګه تللي ول او اوسمهال خپلو کورونو ته بېرته ستانه شوي دي

۵ د موخې وړ جمعیتونو لپاره د نفوس د کچې معلومات د هغوی د بېځایه کېدنې پر مهال د دې زماني جوړښت پر بنسټ راټولېږي: ۲۰۱۲-۲۰۱۵ . ۲۰۱۶ . ۲۰۱۷ . ۲۰۱۸

## لنډه کتنه

**۱۳** ولسوالۍ وارزول شوې
**۲۷۳** کلي وارزول شول

**۱،۶۹۹**
کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۲۱۵،۳۴۴**
بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۵۶،۵۰۶**
داخلي بېځایه شوي کسان په کوربه ټولنو کې ژوند کوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۵۹،۷۸۳**
پخواني داخلي بېځایه شوي کسان اوس خپلو سیمو ته بېرته ستانه شوي[۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۳۲۵،۶۲۱**
کسان د هېواد څخه بهر ته کډوال شوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۵۱،۲۰۸**
کسان اروپایي هېوادونو ته کډوال شوي (د ټولټال کډوالو له ډلې ۱۶٪)

**۱،۹۷۶**
راستنیدونکي او داخلي بېځایه شوي په خېمو او یا آزاده فضا کې ژوند کوي

**۹۵،۴۴۱**
کسان د څښاک اوبو ته هېڅ لاسرسی نلري – فاریاب ولایت د هېواد په کچه د څښاک اوبو ته د اړتیا دریم لوړ شمېر لري

**۳۲۵،۶۲۱**
کسانو خپل کورونه د کډوالو په توګه پرېښي دي – د هېواد په کچه تر ټولو زیات بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان د فاریاب ولایت څخه دي

**۵ څخه ۱**
کسان په فاریاب ولایت کې یا داخلي بېځایه شوي دي او یا هم راستنېدونکي (۲۰٪)

**۴ څخه ۱**
۲۳٪ راستنېدونکي او داخلي بېځایه شوي په شیرین تګاب ولسوالۍ کې ژوند کوي

**۳۴،۰۳۳**
داخلي بېځایه شوي او راستنېدونکي (۵۶٪) په خواجه سبز پوش او قرم قل ولسوالیو کې روغتیایي خدمتونو ته هېڅ لاسرسی نلري

**۸،۲۳۸**
داخلي بېځایه شوې او راستنېدونکې کورنۍ په خواجه سبز پوش، شیرین تګاب او قرم قل ولسوالیو کې ښوونځیو ته هېڅ لاسرسی نلري

## په ټولو ۵ د موخې وړ جمعیتونو کې بېځایه شوي کسان | د ولسوالیو په کچه لنډه کتنه

| ولسوالۍ | * مجموعي نفوس | ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي) | د نفوس سلنه | له بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي | د نفوس سلنه | داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې | د نفوس سلنه | رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | د نفوس سلنه | راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان | د نفوس سلنه | بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | د نفوس سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| میمنه | ۹۱,۴۹۰ | ۲۴,۵۸۵ | ٪۲۱ | ۳,۸۷۶ | ٪۳ | ۶,۵۷۱ | ٪۷ | ۲۰,۷۰۹ | ٪۱۸ | ۶,۳۶۶ | ٪۷ | ۴,۶۴۴ | ٪۵ |
| خواجه سبزپوش ولی | ۵۵,۴۳۲ | ۳۸,۰۸۲ | ٪۴۱ | ۳۴,۰۹۹ | ٪۳۶ | ۷۶,۵۶۴ | ٪۱۳۸ | ۳,۹۸۳ | ٪۴ | ۳۴,۳۴۵ | ٪۶۲ | ۵۴,۶۶۴ | ٪۹۹ |
| پشتون کوت | ۲۰۶,۰۷۲ | ۷,۵۰۸ | ٪۴ | ۲,۹۳۰ | ٪۱ | ۱۷,۲۶۹ | ٪۸ | ۴,۵۷۸ | ٪۲ | ۸,۴۶۴ | ٪۴ | ۷,۸۱۸ | ٪۴ |
| شیرین تگاب | ۸۸,۹۲۲ | ۶۳,۵۳۶ | ٪۴۲ | ۶۳,۰۳۹ | ٪۴۱ | ۲۶,۸۳۳ | ٪۳۰ | ۴۹۷ | ٪۰ | ۱,۶۲۴ | ٪۲ | ۱۰۲,۳۶۸ | ٪۱۱۵ |
| المار | ۷۶,۷۳۳ | ۸,۸۵۲ | ٪۱۰ | ۳,۹۶۸ | ٪۵ | ۱۴,۶۴۴ | ٪۱۹ | ۴,۸۸۴ | ٪۶ | ۴,۵۱۲ | ٪۶ | ۳,۱۴۸ | ٪۴ |
| قیصار | ۱۵۵,۵۱۷ | ۵,۵۰۶ | ٪۳ | ۲,۲۷۵ | ٪۱ | ۲,۵۹۱ | ٪۲ | ۳,۲۳۱ | ٪۲ | ۲,۴۲۰ | ٪۲ | ۱,۴۹۹ | ٪۱ |
| گرزیوان | ۸۲,۷۶۲ | ۴۷۷ | ٪۱ | ۳۷۹ | ٪۰ | ۱,۱۵۵ | ٪۱ | ۹۸ | ٪۰ | ۹۹ | ٪۰ | ۷۳۵ | ٪۱ |
| بلچراغ | ۵۶,۹۷۲ | ۱,۹۹۳ | ٪۳ | ۱,۸۷۸ | ٪۳ | ۲,۹۳۵ | ٪۵ | ۱۱۵ | ٪۰ | ۰ | ٪۰ | ۱,۸۲۵ | ٪۳ |
| دولت آباد | ۵۳,۲۲۶ | ۲۱,۹۳۳ | ٪۲۹ | ۲۱,۶۸۸ | ٪۲۹ | ۱۰,۲۶۹ | ٪۱۹ | ۲۴۵ | ٪۰ | ۱,۶۳۸ | ٪۳ | ۳۶,۲۳۰ | ٪۶۸ |
| اندخوی | ۴۴,۷۱۵ | ۳۳,۴۲۴ | ٪۴۳ | ۲۶,۶۷۵ | ٪۳۴ | ۰ | ٪۰ | ۶,۷۴۹ | ٪۹ | ۰ | ٪۰ | ۲۲,۷۱۷ | ٪۵۱ |
| قرم قل | ۲۱,۴۲۸ | ۲۲,۳۶۵ | ٪۵۱ | ۲۰,۸۹۵ | ٪۴۸ | ۸,۳۳۹ | ٪۳۹ | ۱,۴۷۰ | ٪۳ | ۳۱۵ | ٪۱ | ۶۸,۱۱۵ | ٪۳۱۸ |
| خان چارباغ | ۲۵,۲۷۸ | ۱۵,۵۵۴ | ٪۳۸ | ۱۲,۳۶۲ | ٪۳۰ | ۰ | ٪۰ | ۳,۱۹۲ | ٪۸ | ۰ | ٪۰ | ۷,۵۷۹ | ٪۳۰ |
| قرغان | ۵۱,۴۵۵ | ۲۸,۰۳۵ | ٪۳۵ | ۲۱,۲۸۰ | ٪۲۷ | ۰ | ٪۰ | ۶,۷۵۵ | ٪۸ | ۰ | ٪۰ | ۱۴,۲۷۹ | ٪۲۸ |
| مجموعه | ۱,۰۶۹,۵۴۰ | ۲۷۱,۸۵۰ | ٪۲۰ | ۲۱۵,۳۴۴ | ٪۱۶ | ۱۶۷,۱۷۰ | ٪۱۶ | ۵۶,۵۰۶ | ٪۴ | ۵۹,۷۸۳ | ٪۶ | ۳۲۵,۶۲۱ | ٪۳۰ |

* * د نفوسو معلوماتي سرچینه: د ۱۳۹۷ (۲۰۱۸ – ۲۰۱۹) کال په اړه د احصائې او معلوماتو ملي اداري (*NSIA*) اټکل     سیمبولوجي: د موخې وړ جمعیت ≤ ۲۰۰,۰۰۰     د نفوس سلنه ≤ ۲۵٪

** په فاریاب ولایت کې د ۱۴ ولسوالیو له جملې یوازې ۱۳ ولسوالۍ د لاسرسۍ وړ وې او ارزول شوي دي نو ځکه د پورتنیو ۱۳ ولسوالیو مجموعه د فاریاب ولایت مجموعي نفوس سره چې په پورتني جدول کې لیکل شوی یوشان نده.




دا انځورونه چې د ۲۰۱۸ کال د سپتمبر میاشتې په نیمایي کې اخیستل شوي د فاریاب ولایت قیسار ولسوالۍ باندې د وچکالۍ بدې اغېزې ښیي چې په پایله کې یې بوټي او ونې له منځه تللي او د داخلي بېځایه شویو عایدې له لاسه ورکولو او پوروړي کېدو لامل شوې.© IOM ۲۰۱۸

## تګلار

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې اصلي موخه په افغانستان کې د تحرکاتو او بېځایه کېدنې تعقیب ده ترڅو وکولای شي د بېځایه کېدوونکو، راستنېدونکو، کډوالو، پناه غوښتونکو، مرزي قبیله وي ډلو، کوچیانو او نړیوالو کارګرانو د نفوس، موقعیت او جغرافیاوي تقسیماتو په هکله اټکلونه وکړي. سربېره پر دې DTM د تحرکاتو په اړه نور معلومات هم راټولوي چې په دې معلوماتو کې د بېځایه کېدنې او راستنېدو لاملونه، اصلي او د موخې سیمې، د بېځایه کېدنې او راستنېدو مهال، بیاځلي بېځایه کېدنه، د جمعیتونو شمېر، د زیانمنتیا کچه او اولیه اړتیاوې شاملېږي.

DTM په عمده ډول د یوې سیمې د ارزونې لپاره د هماغې سیمې وګړي د سیمه ایزو کارکوونکو په توګه په کار ګماري. دا کارکوونکي له کلیدي معلومات ورکوونکو سره د ډله ایزو بحثونو له لارې د کلیو په کچه کمیتي معلومات راټولوي. سیمه ایز کارکوونکي د مستقیمو کتنو له لارې هم د ژوند شرایط، لومړني خدمات، امنیت او ټولنیز-اقتصادي حالت په اړه کیفي معلومات راټولوي.

د امنیتي خطرونو له امله سیمه ایز کارکوونکي نشي کولای سیمې ته سمارټ ټلیفونونه یا ټابلیټونه انتقال کړي له همدې امله دوی هره ورځ د یوې کاغذي فورمې په وسیله معلومات راټولوي. په دې فورمه کې د تېر پړاو راټول شوي معلومات هم شتون لري ترڅو د موجود معلوماتو له شتون څخه تایید وشي او د ارزونې پروسه په ګړندیتوب سره پر مخ ولاړه شي. بشپړې شوې فورمې هره اونۍ د DTM ولایتي دفتر ته سپارل کېږي ترڅو د ټیم مشر او د معلوماتو راجسټر کوونکي له لوري تېرې کتنه او تصویب وشي. کله چې دا فورمې تایید شوې نو د موبایلونو په مرسته په الکترونکي توګه د کوبو فورمونو له کارولو سره په مستقیم ډول د DTM مرکزي SQL کې چې په کابل کې ده ځای پرځای کېږي. وروسته بیا دا ډېټا یا معلومات هم په اتومات او هم په انفرادي توګه هره ورځ تصفیه او تایید کېږي. دا دقیقه بیاکتنه ډاډ ترلاسه کوي چې د DTM ډېټا ترټولو لوړ کیفیت، دقت او صداقت ولري.

کله چې DTM د لومړي ځل لپاره په یو ولایت کې ارزونه ترسره کوي نو ساحوي کارکوونکي معلومات یا ډېټا په دوه پړاونو کې چې دوه دوه برخې لري راټولوي:

۱. د ولسوالۍ په کچه ارزونه (B۱): د دې ارزونې موخه د هغو کلیو پېژندنه ده چې ترټولو زیات افغان وګړي ورته تللي او یا ترې وتلي وي او د موخې وړ جمعیتونو شمېر په هکله اټکل کوي.

۲. د کلیو په کچه ارزونه (B۲): دا ارزونه د B۱ ارزونې د پایلو پر بنسټ د راغلیو او وتلیو افغان وګړو په اړه د موخې وړ جمعیتونو لپاره په هغو کلیو کې معلومات راټولوي چې د B۱ په ارزونه کې پېژندل شوي ول. د کلیدي معلومات ورکوونکو د راجع کولو وروسته نوي کلي هم تشخیص او ارزول کېږي.

څکه چې DTM ټول ۳۴ ولایتونه ارزولي دي په راتلونکي کې به یوازې د کلیو په کچه ارزونې ترسره شي. DTM په پام کې لري چې په کال کې به دوه ځلې د هېواد په کچه د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې ترسره کړي چې دا کار د بودجې د دوام پورې اړوند دی.

## کلیدي معلومات ورکوونکي

د DTM ساحوي کارکوونکي د کلیو په کچه معلومات له کلیدي معلومات ورکوونکو څخه د ډله ایزو بحثونو له لارې راټولوي. ساحوي کارکونکي د ټولنې د ارزونې پر مهال د ژوندانه شرایط او د څو سکټوریزو خدمتونو شتون هم ارزوي. په لږو مواردو کې داسې کېږي چې د امنیتي اندېښنو او یا د دولت د مخالفینو ډلو د بریدونو له امله، د DTM سیمه ایز کارکوونکي نشي کولای سیمې ته ولاړ شي نو هغوي غونډې او ډله ایز بحثونه د کلیو څخه بهر یا په خوندیو سیمو کې ترسره کوي او یا هم ارزونې د موبایل له لارې مخکې وړي.

DTM پروګرام په فعاله توګه وکولای شو د ښځینه کارکونکو له ګمارلو سره په ډله ایزو بحثونو کې د جنډر د شمولیت د لا ښه کولو لپاره لوی ګام واخلي، که څه هم دا یو ننګونکی کار وه. سره له دې اوس هم پرمختګ ته اړتیا شته. که څه هم په فاریاب ولایت کې د کلیدي معلوماتو ورکوونکو له ډلې څخه یوازې ۴٪ یې ښځې دي خو دا شمېر د ۲۰۱۷ کال مارچ میاشتې د هېواد د کچې ښځینه کلیدي معلومات ورکوونکو شمېر (۰.۱٪) په پرتله پرمختګ ښيي.

**۱،۶۹۹**
کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۲۱۵**
کلیدي معلومات ورکوونکي یا راستنیدونکي دي او یا هم داخلي بېځایه شوي (۱۳٪)

**۶۹**
ښځینه کلیدي معلومات ورکوونکي (۴٪)

**۳۸۷**
له کوربه ټولنو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۲۳٪)


**۱،۶۳۰**
نارینه کلیدي معلومات ورکوونکي (۹۶٪)

**۱۹۵**
څو سکټوریزو او ټولنیزو خدماتو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۱۱٪)


**۶,۲**
په هرې ډله ایزې مرکې کې د کلیدي معلومات ورکوونکو اوسط شمېر

**۱۷**
له سیمه ایزو چارواکو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۱٪)

د ډول پر بنسټ کلیدي معلومات ورکوونکي | فاریاب




د ډول او جنسیت پر بنسټ کلیدي معلومات ورکوونکي | فاریاب



# بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي

راستنېدونکي هغه افغانان دي چې په بهرنیو هېوادونو کې لږترلږه د شپږو میاشتو تېرولو وروسته بېرته افغانستان ته ستانه شوي او په ارزول شویو سیمو کې ځای پر ځای شوي وي. راستنېدونکي دوه ډوله دي: اسناد لرونکي راستنېدونکي (هغه کډوال چې په کوربه هېوادونو کې راجستر شوي وي او وروسته بیا UNHCR او اړوند حکومتي چاراوکو ته یې د رضاکارانه راستنېدلو غوښتنه کړې وي) او اسناد نلرونکي راستنېدونکي (هغه افغانان چې په خپله خوښه راستانه شوي او یا شړل شوي دي، پرته له دې چې دا په پام کې ولرو چې له UNHCR او اړوند حکومتي چاراوکو سره ثبت ول او که نه).

بهرنیو هېوادونو څخه فاریاب ولایت ته د راستنېدونکو شمېر د ۲۰۱۲-۲۰۱۵ دورې په پرتله په ۲۰۱۶ کال کې ۴۴٪ کموالی شیې. په ۲۰۱۷ کال کې ۲۲٪ کموالی او په ۲۰۱۸ کال کې ۴٪ کموالی شیې.

**۲۱۵،۳۴۴**
بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي


**۵۴،۱۸۴**
پاکستان څخه راستنېدونکي (۲۸،۵٪)


**۱۷۸،۱۴۳**
له ایران + پاکستان څخه اسناد نلرونکي راستنېدونکي (۹۴٪)


**۱۳۵،۸۹۸**
ایران څخه راستنېدونکي (۷۱،۵٪)


**۱۱،۹۳۹**
له ایران + پاکستان څخه اسناد لرونکي راستنېدونکي (۶٪)


**۲۵،۲۶۲**
غیر ګاونډیو هېوادونو څخه راستنېدونکي (۱۲٪)




# رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان

دا کسان هغه افغانان دي چې د نا امنـۍ یا وسلـه والـو جګـړو، تاوتریخوالـی، د بـشري حقونـو سرغړونې، د خوندیتـوب اندیښـنې او د طبیعـی پیښـو یـا د انسان پـه لاس جـوړې شـویو پیښـو څخه د خوندیتـوب پـه موخـه خپلـو سیمو څخـه بېځایـه شـوي دي او ارزول شـوي/ کوربـه ټولنـو تـه تللي او هلتـه ژونـد کـوي.

**۵۶،۵۰۶**
په کوربه ټولنو کې مېشت داخلی بېځایه شوي کسان

**۹۰٪**
د کړکېچ له امله بېځایه شوي


**۲۰،۷۰۹**
میمنه ولسوالۍ کې مېشت داخلي بېځایه شوي کسان – د ولایت په کچه تر ټولو لوړ شمېر

**۱۰٪**
د طبیعي پیښو له امله بېځایه شوي


**۷۳۵**
داخلي بېځایه شوي په غیر رسمي سیمو کې مېشت دی (۱،۳٪)

**۹۵٪**
په خپل اصلي ولایت کې بېځایه شوي


رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | کلنی بهیر | فاریاب





د اصلي ولایت پر بنسټ رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | فاریاب





د ولسوالی پر بنسټ رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | فاریاب




د ولسوالی پر بنسټ غیر رسمي سیمو کې مېشت داخلي بېځایه شوي کسان | فاریاب





رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان | پناه ځای | فاریاب



# ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځايه شوي)

ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځايه شوي) | فارياب





ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځايه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ لنډيز

| ولسوالۍ | راستنېدونکي | رارسېدلي داخلي بېځايه شوي | ټولټال راغلي کسان |
|---|---|---|---|
| شيرين تګاب | ۶۳,۰۳۹ | ۴۹۷ | ۶۳,۵۳۶ |
| خواجه سبزپوش ولي | ۳۴,۰۹۹ | ۳,۹۸۳ | ۳۸,۰۸۲ |
| اندخوی | ۲۶,۶۷۵ | ۶,۷۴۹ | ۳۳,۴۲۴ |
| قرغان | ۲۱,۲۸۰ | ۶,۷۵۵ | ۲۸,۰۳۵ |
| ميمنه | ۳,۸۷۶ | ۲۰,۷۰۹ | ۲۴,۵۸۵ |
| قرم قل | ۲۰,۸۹۵ | ۱,۴۷۰ | ۲۲,۳۶۵ |
| دولت آباد | ۲۱,۶۸۸ | ۲۴۵ | ۲۱,۹۳۳ |
| خان چارباغ | ۱۲,۳۶۲ | ۳,۱۹۲ | ۱۵,۵۵۴ |
| المار | ۳,۹۶۸ | ۴,۸۸۴ | ۸,۸۵۲ |
| پشتون کوت | ۲,۹۳۰ | ۴,۵۷۸ | ۷,۵۰۸ |
| قيصار | ۲,۲۷۵ | ۳,۲۳۱ | ۵,۵۰۶ |
| بلچراغ | ۱,۸۷۸ | ۱۱۵ | ۱,۹۹۳ |
| ګرزيوان | ۳۷۹ | ۹۸ | ۴۷۷ |
| مجموعه عمومی | ۲۱۵,۳۴۴ | ۵۶,۵۰۶ | ۲۷۱,۸۵۰ |


په عمومي توګه فارياب ولايت له ټولټال ۲۷۱،۸۵۰ راستنېدونکو او داخلي بېځايه شويو څخه کوربه توب کوي چې ۷۹٪ (۲۱۵،۳۴۴ کسان) راستنېدونکي او ۲۱٪ (۵۶,۵۰۶ کسان) داخلي بېځايه شوي دي. په لاندې جدول کې د فارياب ولايت ۲۰ کلي ښودل شوي چې ترټولو زياتو بېځايه شويو او راستنېدونکو راتګ څخه اغيزمن شوي. دا ۲۰ کلي (د فارياب ولايت ۲۷۳ ارزول شويو کليو څخه ۷٪) د ټول ولايت ۳۷٪ راستنېدونکو او داخلي بېځايه شويو څخه کوربه توب کوي. دا کلي د ټولنو بې ثباتۍ پر وړاندې چې د راستنېدونکو او داخلي بېځايه شويو لوړ شمېر راتګ سره رامنځ ته شوې حساس او زيانمن دي او دا کار له پخوا نه محدودې شوې سرچينې او کاري فرصتونو لا نور هم محدود کوي.

۲۰ لومړني کلي چې تر ټولو زيات راستنېدونکي او داخلی بېځايه شوي لري

| رده بندی | کلي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|---|
| ۱ | کوه صياد | شرين تګاب | ۱۸,۹۵۵ |
| ۲ | اسلام قلعه | شرين تګاب | ۹,۴۳۴ |
| ۳ | فيض آباد | شرين تګاب | ۸,۰۳۳ |
| ۴ | قضی بای قلعه | دولت آباد | ۶,۰۵۱ |
| ۵ | قريه کوهي | ميمنه | ۵,۶۲۵ |
| ۶ | تواچی کلان | اندخوی | ۴,۹۵۹ |
| ۷ | التی بولک قاضی کينت | قرم قل | ۴,۷۵۲ |
| ۸ | ينګی تکرمن | اندخوی | ۴,۶۳۰ |
| ۹ | تازه قرغان | قرغان | ۴,۳۱۲ |
| ۱۰ | ميرزا قوام افغانيا بالا | قرم قل | ۳,۷۲۹ |
| ۱۱ | بازار قلعه | دولت آباد | ۳,۵۴۵ |
| ۱۲ | لقمان بارتي | خواجه سبزپوش ولي | ۳,۴۵۵ |
| ۱۳ | چو قه | قرغان | ۳,۴۱۳ |
| ۱۴ | حق ګزر | قرم قل | ۳,۰۱۲ |
| ۱۵ | جر تکرمان | اندخوی | ۲,۸۳۶ |
| ۱۶ | قرغان | قرغان | ۲,۷۷۱ |
| ۱۷ | بولک قشلاق | شرين تګاب | ۲,۶۹۰ |
| ۱۸ | سرای قلعه | خواجه سبزپوش ولي | ۲,۵۸۳ |
| ۱۹ | کمانګار پايين | قرغان | ۲,۵۳۰ |
| ۲۰ | قريش | دولت آباد | ۲,۵۲۵ |
| | | مجموعه | ۹۹,۸۴۰ |



د ولسوالۍ پر بنسټ ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي)



د راستنېدونکو د موخې ور ولسوالۍ ګانې

# داخلي بېځايه شوي چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښي


دا هغه افغانان دي چې لـه یـوې ارزول شـوې سـیمې څخه چې هلته یې پخوا ژونـد کاوه د افغانسـتان دننـه یـوې بلـې سـیمې ته تلـلي دي تر څو د وسـلـه والـو جګـړو، تاوتریخوالي، د بـشري حقونـو سرغړونـې، د خونديتوب اندیښـنې او طبیعي پېښـو یا د انسان پـه لاس جوړو شـویو پېښـو څخه خونديِ ووسي.


**۱۶۷،۱۷۰**
داخلي بېځايه شوي چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښي


**۶۵٪**
په عين ولايت کې نورو سيمو ته تللي دي

**۸۵٪**
د کړکیچ له امله بېځايه شوي

**۱۵٪**
د طبيعي پېښو له امله بېځايه شوي



د هغو داخلي بېځايه شويو اصلي ولسوالۍ کانې چې خپلې اصلي سيمې يې پرېښي

# راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان

راستانه شوي داخلي بېځایه شوي هغه افغانان دي چې خپلو سيمو ته چې ارزول شوې سيمې دي او پخوا يې پرېښې وې بيرته ستانه شوي دي. دوی پخوا له دې سيمو څخه تللي ول ترڅو د وسله والو جګړو، تاوتريخوالي، د بشري حقونو سرغړونې، د خونديتوب انديښنې او طبيعي پيښو يا د انسان په لاس جوړ شويو پېښو له اغېزو څخه خوندي ووسي.


**۵۹,۷۸۳**
راستانه شوي داخلي بېځایه شوي

**۷۶٪**
وګړي د ولايت دننه نورو سيمو څخه راستانه شوي


**۴ څخه ۳**
پخواني داخلي بېځایه شوي کسان يوازې ۲ ولسواليو ته راستانه شوي: خواجه سبز پوش او پشتون کوټ (۷۲٪)


**۲ څخه ۱**
د ټولو راستانه شويو داخلي بېځایه شويو له ډلې ۵۷٪ کسان خواجه سبز پوش ولسوالۍ ته راستانه شوي

راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان | کلنی بهیر | فاریاب




د ولسوالۍ پر بنسټ راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان | فاریاب



د راستانه شویو داخلي بېځایه شویو د راستېدو ولسوالۍ ګانې

# بهرنيو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

دا هغه افغانان دي چې لـه يوې ارزول شـوې سـيمې څخه د هـر دلیل، عامل او یا مـودې لپاره له هېـواد څخـه بهـر تلـلي او یـا کډوال شـوي دي. په دې کټګورۍ کې پناه غوښـتونکي، بېځایه شـوي کډوال او هغه کسان شـامليږي چې افغانسـتان یې د اقتصادي سـتونزو له امله پرېښـی وي.


**۳۲۵،۶۲۱**
د هېواد څخه بهر تللي دي

**۵۱،۲۰۸**
اروپايي هېوادونو ته تللي دي
(۱۶٪)


**۲۴۵،۶۳۵**
ایران ته تللي دي (۷۵٪)

**۲۸،۷۳۰**
پاکستان ته تللي دي (۹٪)


د ولسوالی پر بنسټ بهرنیو هیوادونو ته کډوال شوي کسان | فاریاب





د هیواد پر بنسټ بهرنیو هیوادونو ته کډوال شوي کسان/د موخې سیمه | فاریاب





بهرنیو هیوادونو ته کډوال شوي کسان | کلنی بهیر | فاریاب





ترکیه او اروپایي هیوادونو ته کډوال شوي کسان | کلنی بهیر | فاریاب




ایران ته کډوال شوي کسان | کلنی بهیر | فاریاب




پاکستان ته کډوال شوي کسان | کلنی بهیر | فاریاب



# سکتورېزې اړتیاوې

## ۵ لومړیتوب لرونکې ولسوالۍ

مرستو او لومړنیو خدمتونو لپاره د شواهدو پر بنسټ لومړیتوب ورکول اړین دي. DTM د ولایت، ولسوالۍ او کلیو په کچه، د څو شاخصه سکتورونو پر بنسټ همکارو سازمانونو ته د لومړیتوب لرونکو سیمو یا د هغو سیمو لسټ چمتو کوي چې ترټولو زیات مرستو ته اړتیا لري.

(یادښت: د هغو کسانو شمیر چې لاندې یې راپور ورکړ شوی د ټولټال راغلیو کسانو (داخلي بېځایه شوي+ راستنېدونکي) پر بنسټ دی).

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او داخلي بېځایه شوي لري (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | شیرین تګاب | ۶۳,۵۳۶ |
| ۲ | خواجه سبزپوش | ۳۸,۰۸۲ |
| ۳ | اندخوی | ۳۳,۴۲۴ |
| ۴ | قرغان | ۲۸,۰۳۵ |
| ۵ | میمنه | ۲۴,۵۸۵ |
| | عمومي مجموعه | ۱۸۷,۶۶۲ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې پناه ځای ته اړتیا لري (راستنېدونکي+داخلي بېځایه شوي چې په خېمو او آزاده فضا کې ژوند کوي)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | قیصار | ۱,۲۱۳ |
| ۲ | الماړ | ۴۵۳ |
| ۳ | خواجه سبزپوش | ۲۷۰ |
| ۴ | میمنه | ۲۴ |
| ۵ | شیرین تګاب | ۱۷ |
| | عمومي مجموعه | ۱,۹۷۶ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې د څښاک اوبو ته اړتیا لري (د څښاک اوبه > ۳ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | اندخوی | ۲۶,۳۳۱ |
| ۲ | قرغان | ۲۴,۱۹۷ |
| ۳ | قرم قل | ۱۵,۰۸۴ |
| ۴ | خان چارباغ | ۱۳,۶۵۱ |
| ۵ | شیرین تګاب | ۹,۶۷۵ |
| | عمومي مجموعه | ۸۸,۹۳۸ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې روغتیایي ځانګو ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې کلینیک >۵ کیلومتره لرې)


| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | خواجه سبزپوش | ۲۱,۲۷۸ |
| ۲ | قرم قل | ۱۲,۷۵۵ |
| ۳ | شیرین تګاب | ۹,۲۲۳ |
| ۴ | قرغان | ۷,۷۴۹ |
| ۵ | خان چارباغ | ۷,۵۳۹ |
| | عمومي مجموعه | ۵۸,۵۴۴ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې ښوونځۍ ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې ښوونځۍ >۳ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | خواجه سبزپوش | ۵,۷۲۲ |
| ۲ | شیرین تګاب | ۵,۲۷۰ |
| ۳ | قرم قل | ۴,۸۴۹ |
| ۴ | دولت آباد | ۱,۴۸۷ |
| ۵ | قیصار | ۱,۴۲۷ |
| | عمومي مجموعه | ۱۸,۷۵۵ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې بازار ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې بازار > ۱۰ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | قرم قل | ۱۹,۹۳۱ |
| ۲ | قرغان | ۱۴,۷۶۳ |
| ۳ | شیرین تګاب | ۶,۷۲۶ |
| ۴ | خان چارباغ | ۶,۰۵۷ |
| ۵ | میمنه | ۴۱۲ |
| | عمومي مجموعه | ۴۷,۸۸۹ |




## د یوه بېځایه شوي کیسه

### د یوې کونډې مور غمیزه کیسه

زهرا وایي کله چې هغه ۱۶ کلنه وه د هغې پلار په پښتون کوټ ولسوالۍ کې یو سړي ته په نکاح کړه. څو میاشتې وروسته له واده د هغې د خاوند کورنۍ هغې سره ناوړه چلند پیل کړ او هغه یې ګواښوله. په دې حال کې د هغې خاوند پاینده محمد د فاریاب ولایت ۷۰،۰۶۲ نورو کډوالو په شان پرېکړه وکړه چې ایران ته ولاړ شي ترڅو وکولای شي هلته دنده پیدا کړي او خپل پور خلاص کړي. هغه خپله مېرمن د کورنۍ نورو غړو سره په کور کې پرېښوده او ولاړ.

د شپږو میاشتو وروسته پاینده له ایران نه بېرته افغانستان ته ډیپورټ شو. هغه د بزګر په توګه کار کول پیل کړ او افغان ځایي پولیسو سره یې هم دنده ترلاسه کړه. کله چې بلواګرو د هغوی په کلي برید وکړ هغوی دې ته اړ شول چې میمنه ښار ته بېځایه شي.

میمنه ښار کې ژوند کول د زهرا او د هغې کورنۍ ته چې دې مهال کې یې ماشومان هم درلودل ستونزمن کار وه. پاینده په میمنه ښار کې بیا له محلي پولیسو سره دنده واخیسته ترڅو وکولای شي خپل د ژواندانه اړتیاوې پوره کړي. بدبختانه یو میاشت وروسته هغه د چاربولک په سیمه کې جنګ په ترڅ کې شهید شو.

زهرا اوس ۲۵ کلنه کونډه ده او څلورو ماشومانو سره چې دوه یې هلکان او دوه نور یې انجونې دي یوازې پاتې.

”زه نه پوهېږم چې هغوی څنګه وروزم. کله چې زه نشم کولای هغو ته خواړه چمتو کړم نو څرنګه به وکولای شم هغوی ښوونځۍ ته واستوم.“

* د یادونې وړ ده چې په دې کیسې کې نومونه بدل شوي او د سیمې نوم نده یاد شوی ترڅو د هغوی پېژندګلوی خوندي ووسي.



زهرا میمنه ښار کې په یو مؤقتي پناه ځای کې د خپل ۴ ماشومانو سره اوسېږي چې هغه د خپلو ماشومانو د خواړو او ښوونځۍ ته استولو پیسې هم نشي پیدا کولای. © IOM ۲۰۱۸

International Organization for Migration
Route des Morillons 17
P.O. box 17
Geneva 19 1211
Switzerland

د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM)
کور #۲۷
سړک ۴
د انصاري څلورلاره
شهر نو
کابل، افغانستان

هغه معلومات چې په دې راپور کې کارول شوي د IOM-افغانستان سازمان او د DTM نړیوال ملاتړ ټیم په ګډې همکارۍ راټول شوي دي. هغه مسایل او توکي چې د کار په ترڅ کې کارول شوي په هېڅ بڼه د کوم هېواد قانوني حالت، ملکیت، سیمه او یا هم د هغه د چارواکو او یا مرزونو په هکله د کډوالۍ د نړیوال سازمان له هېڅ نظر یا باورونو پورې اړوند ندي.

د کډوالۍ نړیوال سازمان (© IOM ۲۰۱۸)

د لا زیاتو معلوماتو لپاره او د ډاونلوډ وړ نقشو، ډېټابېسونو، متحرکو نقشو او داشبورډونو ته د لاسرسي لپاره مهرباني وکړئ د DTM-افغانستان انټرنټي پاڼه وګورئ.

www.displacement.iom.int/afghanistan

**مونږ سره په اړیکه کې شئ**

د لا زیاتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د DTM ټیم سره په اړیکه کې شئ:

DTMAfghanistan@iom.int

facebook.com/iomafghanistan

twitter.com/iomafghanistan

instagram.com/iomafghanistan

په افغانستان کې د ډي ټي ام مالي ملاتړ کوونکي

Canada
MOFAT
NORWEGIAN MINISTRY OF FOREIGN AFFAIRS
ITALIAN AGENCY FOR DEVELOPMENT COOPERATION
Co-funded by the European Union
په همغږي سره